# پښتو لنډۍ، ټپې، کاکړي غاړې
# د اڅکزو نارې او پښتو متلونه

شېربهادر خان اڅکزے

مورخینو او محققینو د تاریخ په پاڼو دا توري نقش کړي دي، چې د ژبې د ابتدا پیل د پښتو ټپې څخه شوے دے، چې قبل مسیح ۱۸۰۰۰ کاله تاریخ لرونکے دے، بېلګه يې داسې ده:

سپوږمۍ کړنګ وهه راخېژه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

په پښتو کښې فولکلور اثار زمونږ د اولنو پښتو هغه خواږه او زاړه اضعاف دي، چې مونږ د تاریخ اوږدو ته رسوي. هسې خو امیر کروړ د جهان پهلوان دے، د پښتو نومورے شاعر دے، لیکن ستر مؤرخ محمد بن احسان الله بن عبدالله دعوه کوي او لیکي چې مونږ د جلال اباد سره د قبرونو کتبې د ځان سره مې کابل ته راوړې، دا معلومه شوه چې پښتو تر امیر کروړ لا هم ډېره قدیمه اوزړه ژبه ده، زما د معلوماتو او تحقیق مطابق چې څومره تاریخونه او کتابونه ما کتلي دي. متل پر زوړ او قدیم دے، کړۀ وړۀ او زړوالي پر قدیم او زړوالي څرګندوي، د بېلګې په توګه متل راوړم.

کاڼي به پوست نۀ شي دښمن به دوست نۀ شي.
رښتیا یا ولي وايي یا کشني وايي.

داسې ښکاري، چې پښتو لنډۍ، پښتو ټپې، پښتو متلونه دا زمونږ د اولنو پښتنو څخه و مونږ ته په میراث کښې راپاتې دي، د دې وارث هر پښتون دے کۀ خوانده دے او ناخوانده دے؟ پر پښتو لنډۍ باندې د کاکړۍ نوم تپل او پر پښتو ټپې باندې د غاړې نوم تپل د اوبو د سر کرښې دي. بلکې دا ناممکن کار دے. کاکړي غاړې د یو خاص سیمې او لهجې پابندې دي. د اڅکزو نارې او د کاکړو غاړې دا بعد از اسلام خبرې دي، هسې خو په پښتو کښې د خټکو ګډا او د اڅکزو ډېر شهرت لري، دا د پیل څخه لا تر اوسه دوام لري، د کاکړي غاړې ردیف قافیه او سجهه برابره نۀ وي؟ د دغه دپاره دغه یو نوم انتخاب شوے دے، دنوم یو دے پر د دوو برخو نه ویشل کېږي.

**کاکړي غاړې**

پر دنیا مېړونه تل مري
سروبن دې د چا نۀ مري
پر دنیا مې هاے ژوندون
قیامت لیا هم نۀ دے معلوم
درسل روپسۍ انعام
تا له تربور ښۀ دے شیرجان

ستا په سیمه کښې د غاړې بېلګه دا ده، چې دلنډۍ په څېر وئیل کېږي، لهجه يې د کاکړۍ نۀ ده؟

دوست دې نسته بې دښمنه
خرکالي وکه زما ګله

## د اڅکزو نارې

سکانه ځي په پښتونکي اور دي
پر دي تور لاله خان سپور دي
پر ما زوروکي خفګان
ځمه شا مي ته د بور جان
د پنجتيرو نري غاړي
مولا داد ولنډو غواړي
خدائے دې فضل کوي
لنډو سخي بابا ته ځي
لنډو مات کي ديمزنګ
چې پېره دار يې کي څو رنګ
ښځ ځوانان په مرګي تل مري
سروبن دي د چا نهٔ مري
چېرې وي چېرې پېدا سوي
دزهيرو زړو دوا سوي
مهٔ کوه خواست و زاري
کشکه مچک د ملخي
مونږ د بل ولات مرغان يو
نهٔ کښېنو نهٔ پر چا ګران يو
خواجه امران بابا زيار ته
بوره نهٔ لري چوګه

د کاک نيکه قبر په هرات کښې دے، د پښتو فولکلور اثار د يو خاص طايفي ملکيت ګرځول اوتي بوتي او چتي ليکنې دي، چې هېڅ ارزښت نهٔ لري او نهٔ تاريخي تول لري.

د اڅکزو نارې د پښتو لنډۍ په څېر دي، سجهه رديف او قافيه سره برابره ده، د لنډۍ غوندې خوندور انداز لري، په بانډارونو او محفلونو کښې په شوق وئيل کېږي.

اڅکزي د دراني مشهور ښاخ دے، پښتانهٔ دي چې د پښتنو د قديم تاريخ سره تړلي دي.

د اڅک (هڅک) نيکه قبر د طوبي فراخي او دوه بندي په منځ کښې دے، چې دا تفصيل او ثبوت په چاپ اثر افغان هيرو غازي عبدالله خان اڅکزي (شهيد) کښې راوړې دي. د پښتو لنډۍ بېلګه دا ده:

### پښتو لنډۍ

خوښه ستا ده شغالي
کهٔ په تاسې خوري کهٔ ليوړي
د بړيڅو رنګ يې ښه کي
جنګ يوه فتح خان وکي
سور د سمال دي ښوراوي
په مونږ دي اور ولګاوي
زما ګله چا خبر کړې
کهٔ وليانو برابر کړې
زهٔ دې څهٔ کوم بې ګرانه
کهٔ ژړګل سي خراسانه
هغه شپې دي هغه ورځې
ګرانه ستا لمبې مې سوځي
زه درځم نيت مې دايه دي
ديد د خدائے په اراده دي

### پښتو ټپې

مينه د خدائے و روسول ښه ده
دا نورې مينې بې وفا پاتې به سينه
چا يې پلو ليدلے نهٔ ؤ
نن د خېبر پر لار سرتور سرونه ځينه
لنډۍ په وار راسره وايه
ماته بې واره لنډۍ خوند نهٔ راکوينه

تر اټک مۀ راپوربوځه
دلته جنډې د پښتونخوا ولاړې دینه
د تور ټوپکو استاکاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وینه
د تور ټوپک ویشتلي راسي
د بدنامۍ احوال دې مۀ راځه مینه
باده پر باد مې سلام وایه
پر هغه باد چې د جانان پر لوري ځینه
رسول الله به شرع وکي
شیطان به پړ کړي مونږ به ټول جنت ته ځونه
د قلندر باچا ملنګ سه
زما پر سپینه خولۀ چټي راوړه مینه
ګوتې قلم ته په ژړا سوې
خط به باقي وي مونږ به تورې خاوري خورینه
د پېښور په مدرسه کښې
یو خو ګرمي ده بل یې ګران دي کتابونه
چناره ستا پر ځائے کۀ زۀ وے
ما به پاڼو پر ځائے کړي وے ګلونه
سر دې درټو درختو جګ دے
چناره څۀ دې کړم چې نۀ نیسې ګلونه

## پښتو

د غښتلي قوم زبان یې
ښائیسته زما تر بیان یې
ګراني ته پښتو پر ما یې
ښه زبان د پښتونخوا یې
ته وئیلې احمدشاه یې
زړور باچا شېرشاه یې
امیر کروړ دې پهلوان دے
چې غښتلے د جهان دے
تۀ په ښه ادب روښان وي
د خوشحال و د رحمان وي
ملا سلام دې ښه مالي ؤ
ستا په قدر لا ثاني ؤ
صمد خان دې ښه غمخور دے
پښتو ستا ګلشن سمسور دې
محمد ګل و ملنګ جان دې
د عیانه سه بیان دي
زوړ تاریخ دې افتخار دے
غوره ستا د ادب هار دے
زه دې ستا د غاړې هار سم
ستا په پړه باندې پرهار سم
کۀ حمید دے کۀ حمزه دے
پښتونوالي نن تازه دے
غني خان و سمندر شته
پښتو تا کښې شېربهادر شته
نۀ تا وایي نه تا لولي
ځان لا څنګه پښتون بولي
چې خوشحال غوندې زه مړ سم
لا به په خپل قوم پړ سم
پښتانه به مې ارمان کړي
شېربهادر چې مرګ روان کړي

## پښتو متلونه

چې قرار ځم وایي ټپلي دي، چې چابک ځم وایي روي دي
خبرې به لا وسه سي، چې د مور غونډه واده سي.
غویي چې په غوجل کښې لوئے کړي غاښ یې مۀ ګوره
د خپل دوستي و سودا ایله کۀ

نیستي تور فرنګ دي
خوله یا مرګ کڅوي یا خواست
اس کۀ ټکني دي میدان حاصر دے.

پښتو لنډۍ، پښتو، ټپې، پښتو متلونه، پښتانۀ بادشاهان، سیاست مداران، رواحنین (نطاقان) د اصلاح دپاره د خپلو ویناګانو زینت او ښایست ګرځوي، ایکو، ټپه ایزه دا واړه په پښتو کښې سته ببلګې د پښتو شرحې او د اتڼ په نارو کښې موجود دي، پښتو قدیم او زوړ تاریخ لرونکے ژبه ده چې څان له بډاے او په تورو د پښتو ګلشن سمسور دے، چې د هېڅ ژبې و تورو ته اړتیا نۀ لري او بس.

# د بایزے ایریګشن سکیم
# او
# وزیر اعلےٰ

د خیبر پښتونخوا وزیراعلےٰ امیر حیدر خان هوتي د پلانګ کمېټۍ ډپټي چئیرمېن ندیم الحق او وفاقي سکټري پلانګ پي اېس ډي پي په منصوبو خبرې اترې کړې دي. امیر حیدر خان هوتي، ډپټي چئیرمېن ندیم الحق او وفاقي سکټري پلانګ اصف باجوه ته ووې، چې بایزے ایرګېشن سکیم نه به ۲۵ زره اېکړه زمکه سېرابېږي او په اکتوبر کښې به په دغه نهر اوبۀ ورپرېښود ے کېږي.

دا ډېره ګټوره منصوبه ده، چې دغلته به زرعي پېداوار بې حده ډېر شي، وزیراعلےٰ وفاقي حکومت ته خواست وکړو، د دې دپاره چې وفاق کومې پېسې ورکوي، باید په هغې کښې اضافه هم وکړي، وزیراعلےٰ د سوات پوهنتون ته د وسایلو ورکولو دپاره د وفاق او وزیراعظم شکریه هم ادا کړه.

وزیر اعلےٰ د عبدالولي خان پوهنتون مردان د دویمې مرحلې او یو زر سکولونو د پېکج دپاره د وسایلو په ورکولو هم زور ورکړو، د صوبايي اسمبلۍ د غړو سره د ملاقات په وخت یې هغوي ته هم هدایات وکړو، چې د خیبر پښتونخوا زیر تعمیر منصوبې دې په وخت سرته ورسولے شي او د معیار دې خاص خیال وساتلے شي.

ډپټي چئیرمېن ندیم الحق د صوبايي حکومت د ترقیاتي کامیابو کارونو تعریف وکړو او وزیراعلےٰ ته یې یقین ورکړو، چې د پي اېس ډي پي تحت چې په کومو منصوبو کار شروع دے، ټول ضرورتونه به ورته پوره کولے شي.